بسم الله الرحمن الرحیم

**د افغـــانستان اســلامي امــارت**

**د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

**۳ / رجب المرجب /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق۱۴/ جدی/۱۴۰۳هـ، ش**

# د انساني قاچاق دُنیوي خطرونه او اُخروي زیانونه

الحمد لله الذي أعزنا بالإســلام، وشرفنا باتباع خیر الأنام، أحمده تعالی أن هدانا للإیمان: { وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلا أَنْ هَدَانَا اللَّهُ } وأشـهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریك له ، وأشـهد أن محمداً عبده ورسـوله، ومصـطفاه وخلیله، وأمینه علی وحیه، وسـفیره بینه وبین عباده.صلی الله وسلم وبارك علیه، وعلی آله وصحبه، ومن سار علی هدیه واتبع سنته إلی یوم الدین، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالی: (وَلاَ تَرْكَنُواْ إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللّهِ مِنْ أَوْلِيَاء ثُمَّ لاَ تُنصَرُونَ).هود: (۱۱۳)

**درنو حاضرینو او محترمو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

نن سبا په نړۍ کې یو ډول ناوړه انساني تجارت او کاروبار رائج دی چې انساني قاچاق ورته ویل کیږي.

انسـاني قاچاق دوه جهتونه لري چې یو جهت یې قاچاق بر دی کوم کس چې د هغه کار او کسـب قاچاق کول وي چې په نړۍ کې بې ساري قاچاقي باندونه او شبکې غیر مشروع فعالیت کوي .او بل جهت یې هغه کسان دي چې په قاچاقي ډول وړل کیږي او د قاچاقي باندونو ښکار ګرځي.

په قاچاق کې هغه خلک د قاچاق چیانو د ښـکار لاندې راځي چې هغوی د سـفر دنړیوالو قوانینو څخه ناخبره وي لکه زنانه، ماشومان. د قاچاق چیانو په منګلو کې هغه خلک پریوزي چې د زیاتو پیسو د ګټلو او د مرفه ژوند تیرولو خوبونهویني .

قاچاق چیان اکثره وخت په ټولنه کې درواغجن تبلیغات کوي او د ســاده مزاج خلکو او ځوانانو ته په غربي هیوادونو کې دخیالي جنتونو او د هوسا ژوند تصویر وړاندې کوي؛ ترڅو کورنۍ او بالخصوص ځوانان دغیر قانوني او د قاچاق له لارې اروپایي هیوادونو ته مخه کړي.

د قاچاق چیان د پیسـو په عوض کې غربي هیوادونو ته په غیر قاقوني لارو خلک سـفر ته اړ باسي او غرب ته تلونکو خلکو ته د سـفر تزویري اسـناد برابروي، هغوی ته د تللو لارې ښـایي، او هغوی په داسـې لارو نقلوي چې له ډول ډول خطرونو، سـختیو او مشکلاتو څخه ډک وي؛ خو قاچاق چیان د خپلو کړنو او د لارې د خطراتو څخه په اکثره وخت کې تلونکي مسافر نه خبروي؛ بلکې

د ا کړنه ورته ساده او اسانه تشریح کوي او چې هرکله د قاچاق له لارې تلونکي مسافر ددوی په جال کې ولویږي بیا نو بیرته را گرځیدل گران کار وي ځکه چې مسافر د قاچاق چیانو په جالونو کې نښتی وي.

انساني قاچاق اکثره وخت د غرونو؛ ځنگلونو او د مرگونې بحرونو له لارې ترسره کیږي، چې تل له مشکلاتو او سختیو او مرگونو سره مل وي. قاچاق چیان په دې غم کې نه دي چې له چا فقر او احتیاج لري کړي ؛ بلکې د هغوی مقصود یواځې یو څو روپۍ گټل وي چې د خلکو په هلاکت، بندي کیدو، زخمي کیدو او قربانیو تمامیږي.

په انساني قاچاق کې داسې معامله ترسره کیږي چې که چیرې قاچاقچي ته مطلوبې پیسې پروخت ونه رسیږي ؛ نو په قاچاقي ډول بوتلل شوي کسان بندیانوي او ډول ډول شکنجې ورکوي.

انساني قاچاق په اسلام کې حرام ده او له بلې خوا هغه نړیواله معضله ده چې د بین الملل له خوا جرم گڼل شوی دی او د ټولو هیوادونو په قوانینو کې د انساني قاچاق د مجرمینو لپاره مختلفې سزا گانې پیش بیني شوي دي.

داچې انساني قاچاق د مرگونو او زیاتو مشکلاتو څخه خالي نه وي؛ بناءً د افغانستان د ا سلامي امارت عالیقدر امیر المؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله آخندزاده حفظه الله ورعاه د۱۴۴۶/۶/۹ هـ، ق نیټې د ۱۳ گڼې فرمان له مخې د رعیت د مصئونیت او مصلحت په موخه انساني قاچاق نامشروع عمل وگرځولو او په دغه ځانگړي فرمان کې ټولو ذیربطو ادارو ته حکم شوی دی چې د انساني قاچاق د مخنیوي لپاره په خپلو خپلو برخو کې لازمې کړنې ترلاس لاندې ونیسي او د انساني قاچاق مخنیوی دې وکړي او قاچاق چیان دې په سزا ورسوي.

انساني قاچاق نامشروع کار دی او زیات شرعي محاذیر لري او پر ډول ډول فسادونو، فریبونو او غیر مشروع کارونو مشتمل دی؛ چې ځینې مفاسد او محاذیر یې په لاندې ډول دي.

**په قاچاقي لارو نورو هیوادونو ته تلل ځان په هلاکت کې اچول دي.**

د نفس حفاظت د شرعي مقاصدو څخه دي او په انسان فرض دي چې ځان د هلاکت له اسبابو څخه وساتي ؛ ځکه روح او ژوند د انسان سره الهي امانت دی او انسان ته شرعاً دا اجازه نشته چې ځان هلاکت سره قصداً مخامخ کړي پرته د شرعي اجازې څخه.

د همدې وجې نه الله تعالی د انسان د ژوندي پاتې کیدو لپاره د مردار شوي حیوان د غوښې خوړل جائز کړي دي.

او په شریعت کې داسې ډیر مثالونه شته چې دانسان د ژوند دبقاء په خاطر ورته د حرامو خوړلو اجازه ورکړل شوې ځکه حرام نه حلالیږي د خوړلو اجازه ورکړل شوې لکه د زیاتې ولږې پروخت پرته له اجازې د پردي مال خوړل، په سفر کې د روژې ماتول او داسې نور...

نو ځان او نفس د هلاکوونکو شیانو او کارونو سره مخامخ کول ورته جواز نلري، ځکه چې په دې کې د نفس حفاظت له منځه ځي.

امام شاطبی رحمه الله لیکلي دي: (المنهيات على الضربين فالأول كتحريم الخبائث وكشف العورات وتناول السموم واقتحام المهالك وأشباهها) الموافقات. ط المعرفة - دراز(۳ /۱۳۳)

ژباړه:- منهیات په دوه قسمه دي لومړی لکه د خبیثه شیانو حراموالی، د عورتونو لوڅول، او د زهرو څښل او د هلاکت پر ځایونو باندې ورتلل او داسې نور.

ځکه چې ژوند دانسان سره الهي امانت دی او مسلمان باید ددغه امانت پوره ساتنه او حفاظت وکړي او مسلمان ته جائز نه دي چې خپل نفس او ژوند د خطراتو سره مخ کړي.

متأسفانه ځينې خلک د دنيا دلالچ او کفري هيوادونو ته په قاچاقي لارو سفر کوي. په قاچاقې لارو سفر کول په حقيقت کې ځان د مرګ خولی ته اچول دي؛ ځکه چې قاچاق چيان مسافر ځينې وخت په ډيرو لوړو غرونو خيژوي چې مسافر له غرونو لويږي او مړه کيږي، ځينې وخت د زياتې تندې له وجی مسافر ژوند دلاسه ورکوي ، ځينې وخت د سختې يخنی او واورو له امله فلج شي،ځينې وخت وربانديې درندګان او وحشي حيوانات حمله کوي، ځينې مسافر د زيات مزل وهلو توان نلري او له کاروان څخه پاتې شي او د حيواناتو خوراک شي. په ځينو ځايونو کې ســفر د بحر له لارې صــورت مومي او داچې بحري بيړۍ قوي او معياري نه وي او په کوچنۍ په پلاستکي بيړۍ کې قاچاق چيان بې شميره کسان سپروي چې بيا د بحري امواجو له امله چپه کيږي او مسافر په ځای ددې چې اروپا ته ورســيږي د ماهيانو خوراک وګرځي، ځينې وخت د ځينو هيوادونو له خوا ورته د خپل سرحد څخه د تيريدو اجازه نه ورکول کيږي چې په نتيجه کې د بحر په يخو اوبو کې په ورځو ورځو بند پاتې وي او قاچا چيان هم نشيــ کولای چې ورسره مرسته وکړي. چې په دې کارونو سره ځان مرګ ته ورکول دي او په زوره ځان وژل دي له کوم څه نه چې الله تعالی منع کړې ده او فرمايلي يې دي: ﴿وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ﴾.البقرة: (۱۹۵)

ترجمه:- او مه غور ځوئ ځانونه خپل په هلاکت کې (جهاد ترک کړئ ! او خپل مالونه په غزا کې ونه لګوئ!)

**داســتدلال وجه:** څوک چې ښــه پوهيږي چې په کومه لار چې زه ځم دا دهلاکت لار ده او زه په کې مړ کيږم او بيا هم هغه لار تعقيبوي دا داسې ده لکه چې انسان په خپلو لاسونو خپل ځان ووژني.

دا آيت په زياتو وجوهاتو تفسير شوی دی. علامه ابن عاشـور ددې آيت په تفســير کې وايي: (ومعنى النهي عن الإلقاء باليد إلى التهلكة: النهي عن التسبب في إتلاف النفس). التحرير والتنوير۲/۲۱۴)

ژباړه:- او معنی د نهی په خپلو لاسونو ځانونه هلاکت اچولو څخه مراد نهی ده د هغه سبب نه چې له امله يې نفس تلف کيږي.

او زيد بن اسلم وايي: (وَالتَّهْلُكَةُ: أَنْ يَهْلِكَ رِجَالٌ مِنَ الْجُوعِ أَوِ الْعَطَشِ أَوْ مِنَ الْمَشْيِ) تفسير ابن أبي حاتم (۲ /۵)

ژباړه:- د [التهلكة] څخه مراد دادی چې خلک هلاک شي په ولږه يا په تنده او يا په مزل سره.

په دې خو هر ســړی ښــه پوهيږي چې زه په قاچاقي لارو غرب ته ځم کيدای شي چې په دې ســفر کې چې د خطراتو ډک دی زه ورسره مخ شم.

په يو بل آيت کې هم دځان حفاظت په اړه الله تعالی فرمايي چې تاسو خپل ځانونه مه وژنئ. ﴿وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ﴾.النساء:(۲۹)

ترجمه:- او مه وژنئ تاسې سره ځانونه خپل (يعني يو بل، يا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسي د هلاکت سبب وي)

**داســتدلال وجه:** د قرآني علومو قاعده ده چې اعتبار عموم د لفظ لری دی ؛ بناءً ويلی شــو چې ددې آيت معنا داد چې ددنيا لپاره ځانونه مه وژنئ او څوک چې د قاچاقي لارو دغرب سرمايي ته ځان رسوي او دقاچاقي مرګينه لار اختياروي دا ښکاره خبره ده چې دا خپل ځان په خپله وژل دي.

امام قرطبي رحمه الله ددې آيت په تفسيرکې وايې:( أجمع أهل التأويل على أن المراد بهذه الآية: النهي أن يَقتل بعض الناس بعضًا. ثم لفظها يتناول أن يقتل الرجل نفسه بقصدٍ منه للقتل في الحرص على الدنيا وطلب المال؛ بأن يَحمل نفسَه على الغَرَر المؤدِّي إلى التلف).۵/۱۵۶-۱۵۷)

ژباړه:- د مفسرينو په دې اجماع ده چې ددې آيت څخه مراد نهی ده له دې څخه چې ووژني بعضې خلک ځينو نورو لره.

بيا ددې آيت لفظ شامليږي ديته هم چې يو سړی په قصد سره خپل ځان ووژني ددنيا د حرص لپاره او د مال په طلب کې ، داسې چې ځان په داسې خطراتو ور واړوي چې نتيجه يې مرګ وي.

د امام قرطبي رحمه الله د پورتني آيت تفسير کتې متې په قاچاقي لارو کې ځان تلف کولو ته شامليږي او ور سره سمون خوري.
ځان د بحري امواجو سره مخ کول د ځان د وژلو معنا لري، دهمدې وجی نه په احاديثو کې راځي چې کله بحر په امواجو راشي نو تاسې په بحر ته مه کوزيږئ.
همداراز په حديث شريف را کې ځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُـولُ اللَّهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ: «مَنْ أَعَانَ عَلَى قَتْلِ مُؤْمِنٍ وَلَوْ بِشَطْرِ كَلِمَةٍ، لَقِيَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ: آيِسٌ مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ» سنن ابن ماجه (٢/ ٨٧٤)
ژباړه:- د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې ر سول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: څوک چې د مؤمن په قتل کې په نيمه کلمه سره کومک وکړي(مثلاً د قتل ويلو په ځای قت ووايې) نو الله جل جلاله به د هغه سره په داســې حال کې ملاقات وکړي چې ددواړو سترگو په منځ کې به يې ليکلي وي، چې دا کس د خدای تعالی له رحمت څخه نا اميده دی.
ښکاره خبره ده چې د انسانانو قاچاق چيان قاچاقي خلک د مرگ کومې ته وراچوي.
کوم بحرونه چې قاچاق چيان له هغې مسافر تيروي دا خبره يقينی ده چې په دومره طولاني سفر کې حتماً مسافر د بحر د امواجو سره مخ کيږي او د بحرونو څپې ببرې په بل مخ اړوي، مونږ يې وينو چې ځينې د بحر دامواجو له امله په سوونو مسافر په بحرونو کې غرقيږي.
په حديث شريف کې راځي: عن سمرة بن جندب- رضي اللّه عنه- قال: قال ر سول اللّه - صلى الله عليه و سلم -: «ومن ركب البحر في ارتجاجه فقد برئت منه الذمة». اتحاف الخيرة المهرة بزوائد المسانيد العشرة (٦/ ٤٠)، مسند أحمد بن حنبل-ن (٥/ ٢٧١)
ژباړه:- د سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ر سول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: ... او څوک چې په بحر کې (په کشتۍ کې) سـپور شـو د بحر په امواجو کې ، بيشـکه لرى شـوه له ده څخه ذمه (دالله ) يعنې دالله تعالی حفاظت ورسره مل نه وي.
په بحر کې په داســې حالت کې ســپريدل چې اضــطرابي وي ؛ په اتفاق د علماوو سره حرام دي.امام ابن عبدالبر رحمه الله ليکي:( وَلَا خِلَافَ بَيْنَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ الْبَحْرَ إِذَا ارْتَجَّ لَمْ يَجُزْ رُكُوبُهُ لِأَحَدٍ بِوَجْهٍ مِنَ الْوُجُوهِ).التمهيد (١/ ٢٣٤)
زباړه:- د علماوو په دې کې اختلاف نشـته چې کله بحر اضـطرابي شي جائز نه دي سـپريدل (په کشـتۍ)د بحر کې هيڅا ته په هيڅ وجې سره.

**د قاچاقي لارو نورو هيوادونو ته تلل د ولي الأمر د حکم څخه سرغړنه او مخالفت دی چې دا کار حرام دی.**

هرکله چې ولي الأمر(شرعي امير يا حاکم) د کوم کار د نه کولو امر او حکم وکړي، نو د هغه کار کول د ولي الأمر د حکم څخه مخالفت او سرغړونه ده او جواز نلري. الله جل جلاله مونږ ته د ولي الأمر د حکم او امر پر اطاعت حکم کړی دی او فرمايلي دي:
﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ﴾.النساء:(٥٩)
ترجمه:- ای هغو کسانو چې ايمان يې را وړی دی (ای مؤمنانو!) حکم ومنئ تا سې د الله!او حکم ومنئ تا سې د ر سول ( د الله) او (حکم ومنئ )د خاوندانو د حکم له تاسې(مسلمانانو يعني حاکمانو او مشرانو!)
**د استدلال وجه:** د [أولي الأمر] څخه مراد د وخت پاچا، سلطان اميران مراد دي .
امام القلقشــندي رحمه الله وايي: (هم ولاة الأمور على ما ذهب إليه كثير من المفسرـين والامام هو أعظم ولاة الأمور لعموم ولايته فهو أحق بالطاعة وأجدر بالانقياد لأوامره ونواهيه) مآثر الإنافة في معالم الخلافة (ص: ٣١)

ترجمه:- [أولي الأمر] هغه ځوک دي چې د کارونو سرپرستي کوي بنا په هغه قول سره چې اکثره مفسرین ور باندې او امام هغه ځوک دی چې د ټولو حاکمانو څخه لوی دی ؛ ځکه چې د هغه ولایت عام دی او هغه زیات حقدار د اطاعت دی او د هغه اوامر او نواهي زیات مستحق داطاعت دي.

امام ابو اللیث سمرقندي رحمه الله د [ أولي الأمر] په تفسیر کې وایي:( ویقال الخلفاء والأمراء یجب طاعتهم ما لم یأمروا بالمعصیة).بحر العلوم (١/ ٣٣٨)

ترجمه:- او ویل کیږي چې د اولي الامر څخه خلفاء او امیران مراددي واجب دی اطاعت ددوی ترڅو پورې چې پر معصیت یې امر نه وي کړی.

په حدیث شریف کې راځي:عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « ...وَمَنْ يُطِعِ الأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِى وَمَنْ يَعْصِ الأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي ». صحيح مسلم (٦/ ١٣)

ژباړه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه د نبي علیه السلام څخه حدیث نقلوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: او ځوک چې اطاعت وکړي د امیر په تحقیق سره هغه زما اطاعت وکړ او ځوک چې د امیر نافرماني وکړي ، په تحقیق سره هغه زما نافرماني وکړه.

ولي الأمر کولای شي چې د خلکو او رعیت د مصلحت په خاطر فرمانونه صادر کړي ، امر او نهي وکړي او له ځینو کارونو څخه خلک د مصلحت په اساس منع کړي او د مصلحت په اساس او د نظام د بهبود په خاطر په ځینو کارونو باندې امر وکړي ، د هغه اطاعت په رعیت فرض دي چې د هغه د فرامینو، او امرونو او نواهي ومني او اطاعت یې وکړي؛ ترڅو پورې چې یې پر معصیت باندې یې امر نه وي کړی. نو ځوک چې د خپل هیواد څخه بل هیواد ته سفر کول غواړي په هغه لازم دي چې په هغو قوانینو عمل وکړي چې د وخت امیر، پاچا او سلطان تدوین او صادر کړي وي او که چیرې د قانون خلاف یې سفر وکړ؛ نو ده په حقیقت کې د خپل امیر د امر مخالفت وکړ.

**د قاچاقي لارو څخه نورو هیوادونو ته سفر کول ځان ذلیله کول دي.**

**د** قاچاقي لارو څخه غربي یا نورو هیوادونو ته سفر کول ځان په ذلت کې اچول دي په داسې حال کې چې الله تعالی مونږ ته عزت او کرامت راکړی دی، لکه چې الله تعالی فرمایي:(وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ). الاسراء: (٧٠)

ترجمه:- او خامخا په تحقیق ډېر عزت ورکړی دی مونږ اولادې د آدم ته

**توضیح:** د اسلامي او غیر اسلامي ټولو هیوادونو په قوانینو کې په قاچاقي ډول هغه هیواد ته داخلیدل جرم ګڼل کیږي . د همدې امله هغوی په خپلو سرحدونو باندې امنیتي کسان اوپولیس ګمارلي وي ترڅو غیر قانوني کس هیواد ته داخل نشي. په اکثرو ملکونو کې د مؤظفو پولیسو سره سپي هم وي. د ځینو هیوادونو د سرحدونو ساتونکي چې کله په قاچاقي ډول داخلیدونکی کس ویني سپي ورپسې کوي او په سپو یې نیسي او په سپو یې ډاروي او ځینې وخت ور باندې ډز کوي او په قاچاقي توګه داخلیدونکی شخص زخمي کیږي . کله چې په غیر قانوني توګه داخلیدونکی شخص ونیول شي؛ نو له وهلو او راټکلو څخه علاوه هغه بندي کوي ، وهي یې ، رټي یې، د هغه هیواد ته کنځل کوي او د نامعلومې مودې وروسته هغه بیرته خپل هیوادته ستنوي، ځینې وخت داسې هم کیږي چې د قاچاق له لارې تللي کسان په سرحدونو کې په مودو مودو پراته وي او دداسې فرصت منتظر وي چې د هیواد له سرحده تیر شي او خوراک او څښاک ورته نه رسیږي، په لارو کوڅو کې او د پلونو لاندې بې سر نوشته پراته وي، ځینې کسان

سوالګري کوي، ځينې کسان نشه يې توکي استعمالوي. چې دا هرڅه د مسلمان لپاره لوی شرم او ذلت دی حال داچې دی د عزت او دولت ګټلو په مقصد له کوره وتلی وي. داسلامي شريعت ځان په ذلت کې د اچولو څخه منع کړې ده. په حديث شريف کې ځان په ذلت کې د اچولو څخه منع راغلی ده.نبي عليه السلام فرمايلي دي: عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يُذِلَّ نَفْسَهُ» قَالُوا: وَكَيْفَ يُذِلُّ نَفْسَهُ؟ قَالَ: «يَتَعَرَّضُ مِنَ البَلَاءِ لِمَا لَا يُطِيقُ». سنن الترمذي (٤ /٥٢٣)

ژباړه:- د حذيفه بن اليمان رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: جائز نه ده د مؤمن لپاره چې خپل ځان ذليله کړي. صحابه کرامو عرض وکړو چې څنګه به خپل ځان ذليله کړي؟ نبي عليه السلام وفرمايل: (ځان) وړاندې کړي داسې مصيبت ته چې طاقت يې نلري.

ملا علي القاري رحمه الله ددې حديث په معنا کې ليکي:( أَيْ: لَا يَجُوزُ لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يُذِلَّ نَفْسَهُ. أَيْ: بِاخْتِيَارِهِ).مرقاة المفاتيح (٥ /١٧٣٩) يعنې جائز نه ده چې مؤمن لپاره ذليله کړي خپل ځان په خپل اختيار سره.

رسول الله صلى الله عليه وسلم به د ذلت څخه په الله تعالى پناه غوښتله. يعنې ذلت يو ډول عذاب دی او عذاب ته ځان وړاندې کول لوی زيان دی.

**د قاچاقي لارو څخه نورو هيوادونو ته د تللو لپاره مسافر اړ دي چې ځان ته د دروغو ، جعلي او تزويري اسناد جوړکړي چې دا په اسلام کې حرام دي.**

څوک چې بيروني ملکونو ته په قاچاقي ډول ځي دوی اړ دي چې د ځان لپاره د ډيرو پيسو په بدل کې جعلي او تزويري اسناد جوړ کړي. دوی بايد هم د خپل هيواد جعلي اسناد جوړ کړي او هم د خارجي هيوادونو جعلي اسناد جوړ کړي چې دا غش او ښکاره تزوير دی او په اسلام کې ناروا حرام عمل دی ځکه دا دروغ دي او اسلام له درواغو خلک منع کړي دي.

د قاچاقيانو سره ملګري دلالان هغوی هم له قاچاق چيانو سره ددرواغو په ګناه کې شريک دي او سخت ګناهګار دي ځکه چې هغوی له دوی سره په ګناه کې مرسته کوي.الله تعالى له درواغ ويلو منع کړې ده: ﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ﴾الحج: (٣٠)

ترجمه:- پس ځان ساتئ تاسې له پليتى څخه چې بوتان دي او ځان وساتئ تاسې له وينا د دروغو څخه

په يو بل مبارک آيت کې راځي: (إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ) غافر: (٢٨)

ترجمه: بېشکه الله سمه لار نه ښيي هر هغه چاته چې هغه مسرف له حده تېرېدونکې وي ډېر دروغجن وي

تزوير يو ډول تحريف دی چې دواړه ددرواغو يوه برخه ده؛ نو ځکه حرام ده.

الله تعالى فرمايلي دي: { فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَوَاضِعِهِ } المائدة: (١٣)

ترجمه:- نو په سبب د ماتولو د دوی د کلکې وعدې خپلې لعنت وکړ مونږ پر دوی او ګرځولي دي مونږ زړونه د دوی سخت (چې هيڅ پند نه اخلي) چې اړوي (لرې کوي) دوی کليمې (د تورات مخصوصا محمدي نعت) له ځايونو خپلو (او په خپلې نا پاکې مدعى يې اړوي)

**توضيح:** يعنې کلمې بدلوي له خپلو ځايونو څخه د فاسدو غرضونو لپاره.

د قاچاق چيانو کارونه ټول په فريب ، دوکه او چل روان وي او په هرځای کې درواغ وايې او خلکو ته هم دوکه ورکوي او دولتونو ته هم دوکه او فريب ورکوي.

همداراز په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-قال: « لَيْسَ مِنَّا مَنْ غَشَّ ». أبو داود (٣ /٢٨٧)

ژباړه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: نه دی زمونږ څخه څوک چې دوکه او فريب کوي.

**كفري او غربي هيوادونو ته په دې نيت تلل چې هلته ژوند غوره کړي حرام او ناروا دي.**

الله جل جلاله فرمايلي دي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا ).التحريم:(٦)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! وساتي تاسې ځانونه خپل او کور کهول خپل (په اطاعت د الله) له اور څخه

**وجه د استدلال:** اکثر وخت کفري او غربي هېوادونو ته تګ د ګناه سبب ګرځي الله جل جلاله مونږ ته امر کړی دی چې تاسو ځانونه او خپل اهل او اولادونه له هغو کارونو څخه وساتئ چې سبب د جهنم داور ګرځي لکه ګناهونه کول، کفر او فسق کول. اولادونه غير اسلامي هيوادونو ته بوتلل سبب د جهنم ګرځي ؛ ځکه غير اسلامي ملکونه د ډول ډول فتنو مرکزونه دي او چې د فتنو مرکزونو ته ورځې ؛ نو طبيعي خبره ده چې ته به هم ورباندې اخته کيږي او اولادونه او لمسي او کړوسي به دې ورباندې هم اخته کيږي.

جمال الدين قاسمي رحمه الله ددې آيت په تفسير کې ليکلي دي: قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا أي : سببها ، وذلك بترك المعاصي ، وفعل الطاعات ، والقيام على تأديب الأهل). محاسن التأويل (تفسير القاسمي) (ص: ٠)

ژباړه:- د اور له سبب څخه ځانونه او اهل وساتئ چې هغه د ګناهونو ترک کول دي او طاعت کول دي او د اهل تأديبول دي .

کفري او غير اسلامي هيوادونه چې دبی دينۍ ، الحاد، اخلاقي فساد، شراب څښلو او ډول ډول ناوړه او حرامو څخه ډک دي داسې غير اسلامي هيوادونو ته سفر کول د مسلمان دين په خطر کې اچوي په ځانګړي توګه هغه ماشومان او اطفال چې په غير اسلامي هيوادونو کې تربيه کيږي او را لوئيږي، په يقيني توګه ويلای شو چې په کفري هيوادونو کې د آينده نسل لپاره د کفر او فسق زمينه مساعده ده. داسې ډير پيښ شوي دي چې ديندراه اشخاص غيراسلامي هيوادو ته تللي دي او بيايه فتنه کې لويدلي دي، ديندراي يې په معصيت تبديل شوی ده او يا هم اولادونه يې په غيراسلامي تربيه رالوی شوي دي چې داسلامي دين په اړه هيڅ معلومات نلري. رسول الله صلى الله عليه وسلم د مشرکانو په منځ کې د اوسيدلو څخه منع فرمايلي ده. نبي عليه السلام فرمايلي دي: (أَنَا بَرِىءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ. قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ لِمَ؟ قَالَ : لاَ تَرَاءَى نَارَاهُمَا)سنن أبي داوود

ترجمه:- پيغمبرعليه السلام وفرمايل: زه بيزاره يم له هرهغه مسلمان څخه چې دمشرکانو په منځ کې اوسيږي . صحابه وو عرض وکړ دا ولی يارسول الله صلى الله عليه وسلم؟ پيغمبرعليه السلام وفرمايل: ترڅو دوی د يو بل اور ونهويني.

**توضيح:** دحديث معنا داسې ده چې مسلمان بايد له مشرک څخه لرې واوسيږي او دمسلمان کوراو اقامت ګاه له مشرک څخه دومره لرې وي که چيرې مسلمان اور بل کړي چې کافر يې ونه ويني او ورته ښکاره نه شي.[تحفة الاحوذي]

دا يوحقيقت دی چې محيط او اوسيدونکي دانسان په ژوند مستقيمه اغيزه لري ، ديندراه او صالح محيط انسان نيکۍ لورې ته بيايي خو بد محيط او بدملګري د انسان مشاعر د بدو خواته کش کوي؛ بالخصوص هغه ماشومان او اطفال چې سالمې تربيې ته ضرورت لري.

**په قاچاقي لارو نورو هيوادونو ته تلل د خپل هيواد حيثيت او مقام ته زيان رسول کيږي.** په قاچاقي لارو چې کوم خلک غربي هيوادونو ته ځي، دوی د جنسيت اخيستلو لپاره مجبور دی چې د خپل هيواد غيبت وکړي ، درواغ ووايې او خپل هيواد داسې معرفي کړي لکه چې دا يو جهنم وي چې په دې کار سره نړيوالو ته د خپل هيواد ناوړه انځور وړاندې کول دي؛ کوم چې د خپل هيواد سره لويه جفا ده او خپل هيواد بدنامول دي.

**ځينې کسان په قاچاقي لارو غربي هيوادونو ته ورسيږي؛ خو خپل مرام او مقصد ته ورنه رسيږي.**

ځينې کسان د سفر دا ترخې او له مشقت ډک سفر تير کړي او مقصودي هيواد ته ورسيږي ؛ خو په کلونو کلونو هلته بې سرنوشته پراته وي ؛ چې ميزبان دولت ورته نه جنست ورکوي او نه ورته دکار اجازه ورکوي او د غربت شپې او ورځې تيروي. داسې هم کيږي چې بيرته يې خپل هيواد ته راوشړي او ټول زحمتونه او تاوانونه يې هدر او عبث لاړ شي؛ حتی ځينې په کې بې لارې شي نشه توکي استعمالوي .